شعري ټولګه

# پل مې په پاخه سړک کې وتی دی

بختیار نیازی

پل مې په پاخه سړک کې وتی دی

شعري ټولګه

بختیار نیازی



د ښتې را پام کړ چې ناکامه یم له ښاره وتی
وم په لټون کور نه د یو مســـکا لپاره وتی

ستا وصال دومره په وجود باندې ښېرازه کړمه
چې د پښې پل مې په پاخه سړک کې یاره وتی

خدایه که ژوند مې د پاګل له ژونده ښه هم نه وي
زه به بیا هم په تا مئین یم که مې زړه هم نه وي
بس سم د واره دې د زلفو په سجده پرېوزي
نیت یې تړلی ستا د وصل د لمانځه هم نه وي
بیا به مې هم له خیال او فکر څخه و نه وځې
که په ککره کې مې عقل او ماغزه هم نه وي
بغیر له تا ژوند راته داسې یو حالت وي د ژوند
چې د خوړلو خو څه هېڅ نه وي او به هم نه وي
چې مو تراوسه په لاسونو کې جواز هم نه وي
څنګه تري غېږه کړم چاپېره چې ساړه هم نه وي
چې مې خپل خدای ته ورکووم د مېلمستیا بلنه
څه عادتونه خو به ما کې د شپانه هم نه وي

چا به نیولی وي په لاس کې راته لمر بختیاره !
ما به ورکړی پرې د یار یو تار ویښته هم نه وي

ښه مې پرې خوشحاله کړ خپل زړه باران ته ایښي وو
څاڅکي مې د تېر یو بارانه باران ته ایښي وو

ځان مې يې زړګی مې يې ځيګر مې يې او روح مې يې
دا لفظونه چا په کاغذه باران ته ایښي وو

پوهه شوه اخر د خپل ناکام مئين په قدر يې
نن يې تصويرونه د واده باران ته ایښي وو

ولې دې کوله له هغې نه د اظهار تمه؟
ولې کاڼي تا د پورې غره باران ته ایښي وو

بيا مې هم و نه واته له ياده تجربه مې کړ
ما په يو طبيب باندې ما غزه باران ته ایښي وو

توله شپه مې خوب بختياره سترګو نه په تېښته وو
شوخ يار لګنونه د کاله باران ته ایښي وو

چې له غرور نه د ببلتون کيسې دلبر شروع کړې
ما وخت نه مخکې دواګانې د ځيګر شروع کړې

نه به ستړيا راتله نه ولړه او نه تنده راته
راسره يار به چې خبرې په سفر شروع کړې

لکه پنځه منزله کور چې کشوم ه ژونده
ما چې د هغې د واده په بد خبر شروع کړې

يو ځې موږ به يې اغېز نه جسامت کموه
که به يخنۍ کانې شروع کړې که به لمر شروع کړې

لا يې بختياره په انکار اونۍ اوختې نه ده
تا لوفرانو سره شپې کور نه بحر شروع کړې

نــه ګــوري و دې تــه د مغــروره کــس يــار شــوی يــې
هر څوک چې په مخ راځي بس وايي چې خوار شوی يې
بيـا هـم پـه دې ښـار د تجـاوز مـخ تـه يـې سـپر ولاړ
سـپی هـم د رنـه ښـه دی پـه کـې دومـره ازار شـوی يـې
هغــه کــس دې مــا پــه جنــازه کــې هــم و نــه ليــده
تـه چې پـه چا مـړ يـې او لـه چا نـه چې ځـار شوی يـې
تـا خـو پـه ځنګـل کـې بلاګـانو سـره خـوب کـاوه
نن پـه خپـل کالـه کې لـه خپـل سيوري نه ډار شوی يـې
سـپيان پـه طرفونـو کـې پـه سـر ږلـۍ ولاړ پـه اور
مـل دې شـه الله وطنـه ډېـر بـد ايسـار شـوی يـې

څـو پـورې چـې ځمکـې تـه رسـېږې ولـړه وژنـي تـا
دومـره جيـګ کمـر نـه تـه بختيـاره ګـوزار شـوی يـې

اوري بــه تــل د هغــه ښــار پــه کاغــذونو بــاران
چــې يــې وګـړي پـرې جـوړ نـه کـړي د لفظونـو بـاران

د هغــه ځــای خلــک بــه لمــر او شــغلې څــه پېژنــي
لــه ســحرونو چــې پــرې وي تــر ماښــامونو بــاران

د ستا په تلو مې شو رنګ داسې يوې دښتې غوندې
چــې شــوی نــه وي پــرې جانانــه لــه کلونــو بــاران

لـه خپـل ښايسـت نـه د نقـاب بندونـه مـه خلاصـوه
ګـوره دريـاب تـه بـه دې ښـکته کـړي د زړونـو بـاران

زلفــې دې وويـنځــه اوبــو تــه يــې تودوخــه ورکــړه
چې وريـځ تـرې جوړه شي او وشي د عطرونـو باران

بختيــاره څنګــه بــه پــرې خپلــې جـامې وچــې کړمــه
چــې مــې را وري ټولــه ورځ پــه تنــابونو بــاران

په داسې کور کې به خوب ځنګه د يو کس راتلو
ورته سړک نه چې د هر ګاډي غورس راتلو

ګل په ځای پرېږده چې په کې وو هغه لاس مړاوی شو
دومره ناوخته کړو جانانه ستا واپس راتلو

زما نامې يې هم تراوسه شونډې لمس نه کړلې
چې په لمانځه کې هم د کومې خولې حوس راتلو

په داسې حال کې د هوا نه موجوديت وژلم
چې په شمال د ماتېدونکو ونو کرس راتلو

ما له انکار سره سره ځپېړې هم ورکړلې
خو دا بختيار سم ليوني غونډې وو بس راتلو

امن یم زنګو باندې تورې خورمه زغرې خورمه
زه خو جنګ نه یمه چې وینې څښم لښکرې خورمه
خدایه هغه یې په ښترو پسې تبر اخلي
زه چې په چا باندې د پورې غره ګورګورې خورمه
ما سره مه ځه تر منزله پورې نه رسېږې
سل متره ځای کې زه پنځوس واره ټکرې خورمه
مطلب دې دا دی نن چې زه دې نهر پاتې شمه
چې راته وایې نن ډوډۍ درځخه لرې خورمه
زما اوبه هم له مرۍ په ډېر تکلیف تېرېږي
خو په ټول ښار کې اوازه ده چې ډبرې خورمه
بغیر له تا دومره ضعیف یم بې له تا دې نشم
چې په پوکي باندې هم نیم ساعت ډغرې خورمه
بختیاره ما چې د بالښت په ځای ترې کار اخیسته
اوس هغه لاس باندې څپېړې سترې خورمه

بیـا هـم در رسـم کـه پـه دښـته کـې چـا پرېښـودلې
تا دې دا خپـل غـرور پاچا کـړي خو مـا پرېښـودلې
تا چې ویـل مینځ کې مـو یـو پـل فاصله هم وژني
هغــه ســړي لــه تــورو غرونــو پنــا پرېښــودلې
دې محکمــې زه پــه مچکــه سنګســار کــړی یمــه
چــې یــې پــرون تــه پــه ګنــاه د زنــا پرېښــودلې
پـه مـه او نـه بانـدې دنیـا پـه مـا کامیابـه نـه شـوه
چې سر مې قطع شو نو زلفې مې ستا پرېښودلې
سـتا جـدایي بـه زمـا زړه بانـدې لمبـې بلـې کـړې
چـا چـې بـه شـونډې هـم جانانـه جـدا پرېښـودلې

بختیـاره تـا بـه چـې بـې رنګـه لـه وفـا نـه ګڼلـه
رنــګ یــې پیــدا کړلوهمــا غـې لــیلا پرېښــودلې

بس دی نور ګل او غوټۍ هیڅ نه ګرځوو ورپسې
زړګیه څو پورې به خپلې غوښې خورو ورپسې

ما ورته ګل په دروازه کې د اظهار کښېښوده
هغې مغرورې را اوچته کړه جارو ورپسې

ده ته پنځه دقیقې لاره ده خو کله راځي
موږ د پنځوسو ساعتو لاره وهو ورپسې

په ځان به زلفې خورول غواړي د یار چې ورک شي
غم یخني نه ده چې را واخلمه پتهو ورپسې

ددې لپاره چې مو سر نه ویښتان و نه وځي
موږ به خوړل د یوه پک ډاکتر دارو ورپسې

په پښو تنهاکې دې تنهاکو باندې وختلې
بختیاره کښېنه بس دې ډېر وکرځېدو ورپسې

شغلې يې کړې را ماتې ټولې ځان ته د سرو زرو
چې يار مې کله ننوت دوکان ته د سرو زرو

غوړو نه دې والۍ وباسه پوزې نه چارګل
قيمت دې خپږولی دی اسمان ته د سرو زرو

لاسونه د دونيا ورپسې ګرځي وږي تږي
تنهې مې لګېدلي دي ګريوان ته د سرو زرو

هغه رابانډې اېښی دی د اوسپنې قيمت
ارزښت چې ورکوم زه کوم انسان ته د سرو زرو

بختياره که دې اوس د ښنګ ياران هم غزل نه اوري
خو وخت به ورکوي نوم ستا بيان ته د سرو زرو

زه څــه وکــړم ســبب دې ده ښــکلا د بیــا لیــدو
هــوس چــې دې لــرم زړه کــې بیــا بیــا د بیــا لیــدو

هغــه بانــدې لګېــږي زمــا مــخ لکــه خنجــر
چــې زه مــړ پــه ارمــان یمــه د چــا د بیــا لیــدو

پــه زړه کــې مــې پرتــه وي اند ښــنه لکــه د غــره
پــرده چــې مــو هــم مینــځ کــې وي اشــنا د بیــا لیــدو

راجوخــت مــې شــه ســینې تــه یــوه ټینګــه غــاړه را
ډېــر کــم چانــس وي دې ښــار کــې پــه ولا د بیــا لیــدو

پــه مــا بانــدې اور بــل وي لکــه ســوزي چــې ســګرټ
پنځــه دقیقــې وخــت مــو وي تــر شــا د بیــا لیــدو

د درد ګنجــایش نشــته نــور وجــود کــې د بختیــار
وعــده ګــوره پــوره کــړې خامخــا د بیــا لیــدو

په خپل زړګي تېر شوی حال مې خپل نظر ته کېږدم
شکل يې وا ورې څخه جوړ کړم بيا يې لمر ته کېږدم

تمامه شپه يې تېره کړې په شوګير وي ورته
چې امنت دې تصويرونه کوم نفر ته کېږدم

دا به په دې دنيا شپې وي د جنت د شپو
چې خپل له تا تاو کړم او ستا لاسونه سر ته کېږدم

چې يې هدف او لوری ته يې ما تر تا رسوي
زه به په اور هم قدمونه دې سفر ته کېږدم

د درد په ځای به د هغې د نامې ذکر شروع کړي
که مې د خولې ژبه بختياره خپل پرهر ته کېږدم

بایـد د ښـه شـاګرد مـړال راتـه سـاقي راکـړي
زه چې زاهد تـه هم جام ډک ورکـړم خـالي راکړي

راشه که ما درته د پښو خاورې هم ښکل نه کړلې
بیـا دې تمـام خلـک نامـه راتـه د سـپي راکـړي

زه چې د ختو پـه دیـوال کې هم درز ووینمه
یـو نـوی درد زمـا او سـتا د جـدایي راکـړي

په محبت د تور تبوپـک ګوزار نه ډېر دروند وي
چې په ګلاب هم څوک ګوزار په بدمعاشي راکړي

هغـه بختیـاره پـه سـبا خپلـه سـندرې وایـي
په اورېدو چې یې نن څوک د مرګ دمکي راکړي

چې يې نصيب راته لحظه ژړا راکوي
ياران واده کې يې بلنه د ګډا راکوي

يو شرابي يې په شرابو کې هم نه شي موندی
څومره مزه چې مې د يار په خوله خندا راکوي

وخت مې همدغسې قصدن محتاجوي يو کس ته
او بيا هغه ته ورکوي ما ته صحرا راکوي

زما له خولې نه تللې وينې ستا نامه ليکلې
او طبيبان رانه چاپېره دي دوا راکوي

يوازيتوب مې وجود داسې دردوي بختياره
لکه په تن چې مې ټکونه اژدها راکوي

چې پکې ډوب یمه او ځان رانه دریاب وړی دی
ضرور پخوا یې له کوم چا څخه رباب وړی دی

چې ورته زه به ورختمه نو خولې به شومه
کور مې په داسې موقعیت کې خړ سېلاب وړی دی

دغه سړی خو لا تر اوسه وربخې نه پېژني
خلکو ته وایي چې شمال چېرته افتاب وړی دی

هماغه باد درته په زلفو مخ پټ کړی هم دی
چې کوم یو باد درته له مخ څخه نقاب وړی دی

چې د زړه خیال مې ورته درد کې هم ساته بختیاره
ما له هغه سړي نه زړه کباب کباب وړی دی

رنـګ یـې لـه نـور نـه او نظـر یـې لـه تـورتم جـوړ دی
لــــه دوښــــمنانو تنظــــیم څــــومره مــــنظم جــــوړ دی

زلمي خو څه چې پیغلې هم ستا په ښایست کې وایي
یــا ښــا پیرۍ ده یــا صــورت یــې پــه قلــم جــوړ دی

لکه سپوږمۍ ته چې وینښته سترګې خوله پوزه کېږدې
د یــو چــا مــخ دی بــس پــه دغســې رقــم جــوړ دی

کـه اوس دې سـترګې ړنـدې هـم شـي ورنـه نـه ورانېږي
زړه کــې مــې پــل د ســتا د ســترګو د قــدم جــوړ دی

ســتا تصــویران مــې لګــولي دي پــه لوښــو کــې هــم
یــو ورځ خــو راشــه تــه لــه کــوره مــې الــبم جــوړ دی

کـــړه راپیـــدا د چـــا د نشـــتون حوصـــله بختیـــاره
دومــره زېــړ شــوی یــې زیــاتي درنــه شړشــم جــوړ دی

بیا مې خوب سترګو کې ګډوډ شو برباد شو
چې مې څوک له یاده ویستی و را یاد شو

ستا غمونه خو ټول ما په سر منلي
په مړوند کې دې بنګړي ولې ازاد شو

ټول مې ستا مینې ته یاره وقف کړي
که مې خیال شو که مې سر شو که جایداد شو

په لور کې یې د مرغۍ نامه ده ایښې
نن سبب د حیرانتیا راته صیاد شو

غزلونه به خیرات ورکړم بختیاره
که په دې ښار کې د خلکو اتحاد شو

مــوره حــس کولــه دا مــوره بانــدې ګرانــه وه
تــا ســره پــه لاره کــې ســتا خوشــبو روانــه وه

کله چې راوینښ شومه خپل ګریوان مې لاس کې و
خــوب کــې رانیــولې جـدایي مــې لــه ګریوانــه وه

نــه پــه پــاخو خښــتو وه نــه هــم پــه رنګونــو وه
مېنــه مــې د ژونــد یــاره تــا بانــدې ودانــه وه

ســتا پــه تــن چــې ولیــده خلکــو قیمتــي شــوله
تانــه مخکــې دا جــوړه دې ښــار کــې ارزانــه وه

زه یــې ســتا راتلــو تــه تــر ماښــامه ودرولــی وم
ســتا کــړې وعــده جانانــه څــومره پهلوانــه وه

موره پرې ټول عمر وکړ تګ د پاچاهۍ په نیت
تللــې کومــه لاره چــې بختیــاره تــر زندانــه وه

ډک لــه ګلونــو نــه ګلــدان مــې پــه اوبــو لاهــو کــړ
نــور بېخــي مــه راځــه ارمــان مــې پــه اوبو لاهو کــړ

ورته په بام مې لوښی ایښی و چې ډک شو ورنه
سیند کې مې واړوه باران مې په اوبو لاهو کړ

ستا په وجود د مئینتوب کیسه مې بیا تکرار کړه
دریاب ته لاړمه او ځان مې په اوبو لاهو کړ

بغېر له تا نه اوسېدو پکې خوند نه راکوه
کور مې کړ وران د کور سامان مې په اوبو لاهو کړ

درسره مینه نه لرم مې سیند کې ډوب وویل
د یار بختیاره دا بیان مې په اوبو لاهو کړ

په کې ښایست دې د سپوږمۍ ښایست نه کم نه راځي
دا لا جانانه په ماښام کې تصویر سم نه راځي

یا مې اوبه د وجود وچې دي یا غم نه راځي
ډېره موده کېږي چې سترګو ته مې نم نه راځي

زه ورنه خوند د زلفو اخلم نور یې خپله خوښه
زما کوټې ته دې د تورې شپې تورتم نه راځي

چې نن نه سل کاله پخوا پرې هم بل شوی وي اور
په داسې ځمکه دې هېڅ چېرته ستا قدم نه راځي

که د ربیار په حیث پاچا ورپسې هم ولېږم
بختیاره ښکلي یار خوړلی دی قسم نه راځي

مرګه له تا نه زيات ژوندون ته ازار نه ورکوم
دوښمن به وژنم خو ترې مخکې اخطار نه ورکوم

لګيا يم خوند اخلم کردار نه د اغزن سيمانو
څوک رانه لاره کې لار غواړي زه لار نه ورکوم

چې سرکونه يې هم جوړ وي له سرو زرو څخه
خړې کوڅې د يار په داسې يو ښار نه ورکوم

زما په يار پسې به زه بيا ستاسو بد اورمه
ځکه جزيات په ما د شوي ګوزار نه ورکوم

جنت کې غاړه اخيستل د يو شهيد له حورې
بختياره زه مې پرې د يار تش ديدار نه ورکوم

کــړم لیــونی د یــو چــا غــم بېخــي مــاغره نــه لــري
راځــي خوښــۍ کــې راتــه هــم بېخــي مــاغزه نــه لــري

ګــلاب یــې پرېښــی دی او ســتا پــه اننګــي پریــوتی
یــا ښــه هوښــیار دی یــا شــبنم بېخــي مــاغزه نــه لــري

د خپل پرهر په ځای مې ستا سرې شونډې غوړې نه کړم
زمـــا لاســـونه او ملهـــم بېخـــي مـــاغزه نـــه لـــري

بــس در روان مــې کــړي شیشــې او کــه اغــزي پراتــه وي
د ســتا طــرف تــه مــې قــدم بېخــي مــاغزه نــه لــري

جـــدایي مـــا ســـېځي او رنګـــه د هغـــه زېـــړه ده
ښــکاري بختیــاره چــې شرشــم بېخــي مــاغزه نــه لــري

غټ مصيبت تمامېدلو پس له تا خاپونه
ځکه مې ژر ژر ورانول د رته تر شا خاپونه

ماته د ستا په لور هغه لاره خوند نه راکوي
چې پرې پراته نه وي اغزي او د بلا خاپونه

پوره پنځه ويشت ټنه بار مې په اوږو ايښی و
بيا مې هم نه وتل په لاره کې اشنا خاپونه

هغه سړي د خپل مات سر دعوه په ما وکړله
چې را وستل مې نه قدم لاندې د چا خاپونه

شايد بختياره چې روان يمه د شا په طرف
چې ببرته ماته مخامخ راځي زما خاپونه

ستا نظر زما په زړه کې لګولی
چې کوم اور دې تناره کې لګولی

که کاسه ده که پیاله ده که چاینکه
ستا تصویر مې په هر څه کې لګولی

تا وې ټول عمر به ستا پښو کې شړنګېږي
ما هغه زنځیر په وره کې لګولی

زما وینو نه دې تېل ورته جوړ کړي
کوم څراغ چې دې کاله کې لګولی

اوس زما په انتظار اوسي بختیاره
ما سور اور په بارانه کې لګولی

دومره تږی یم چې ځان مې بېرته ځان ښځي
اول وژاړي بیا څاڅکي د ګریوان ښځي

تېلو هم ورته په سر دی اور بل کړی
که دننه یې وجود کې څراغان ښځي

په دې ښار باندې چې هر یو جنګ تېرېږي
پکې وینې مسلمان د مسلمان ښځي

دا چې رنګه زما ورځ په ورځ زېړېږي
د وجود دننه وینه مې هجران ښځي

خپلو ځانګو کې نرګس نیسي بختیاره
هر یو بوټی چې مې اوښکې د جانان ښځي

ما سره دې او پرهار ته ټاکل شوی
کوم وجود چې ستا ګوزار ته ټاکل شوی

چې زما د ژوند اسباب پکې خرڅېږي
یو اوچت نرخ هغه ښار ته ټاکل شوی

چې ورلاندې یو قدم څوک تللی نه شي
زما ولې هغه بار ته ټاکل شوی

خامخا به د هغه رباب لړګی وای
ستا وینسته که یې وای تار ته ټاکل شوی

مخ راواړوه بس دغه یې دوا ده
کوم یو درد چې دې بختیار ته ټاکل شوی

دنیا کې هر یو حسندار نوم مې هغه ته ورکړ
ستوری سپوږمۍ او د بهار نوم مې هغه ته ورکړ

که یې ذلیل که په ژړا که یې کړم وږی تږی
اوس هم پرې ویاړم چې د یار نوم مې هغه ته ورکړ

زړه مې نښتر کړ ښه نو ته راته اوس دا ووایه
اره به څه وي د نجار نوم مې هغه ته ورکړ؟

ځان مې ریښې ریښې ګریوان د لیوني ذکر کړ
ورته په کار د ستن او تار نوم مې هغه ته ورکړ

که څه هم ما باندې مور اینبی وو له ډېرې مینې
بخت مې ښه نه وو د بختیار نوم مې هغه ته ورکړ

چې جدايي وه او نظر مې تر يار نه رسېده
دومره ضعيف ومه چې وس مې په تار نه رسېده

ما ويل يو به شي او ستا وجود به جوړ شي ورنه
خو تر سپوږمې پورې هېڅ قد د چنار نه رسېده

نه به کوږوالی وو پکې نه درونږوالی پکې
بيا به مو هم تر خپل منزل پورې بار نه رسېده

زموږ د ژوند طبيب له موږ نه دومره لرې مېشت و
چې به ژوندی ورته زموږه بيمار نه رسېده

ګني هر يو به يې اوس خال وو په تندي د جانان
ښه ده تر ستورو پورې لاس د بختيار نه رسېده

دو مره خبر یم چې ستا ښنګ ته په درتلو ګرځم
نور خبر نه یم چې په سر او که په پښو ګرځم

په دغه لار د انسانانو د پښو پل نه پرېږدم
زه پرې پخپله هم د ګوتو په سرو ګرځم

زه به مې پلار په ماشومتوب کې سمندر ته وړلم
اوس چې په دښته کې هم ګرځم په لامبو ګرځم

زه په دیکو خلکو له دې ښار نه په دې وویستم
یار د چا نه یم د بنګړو په دوکانو ګرځم

په ګرځېدو کې هم بختیاره تو ازن ساتمه
نه مې د منډې تګ خوښېږي او نه ورو ګرځمه

له بسترو له هر یو لوښي له سودا خوشبو
ستاسو په کور کې له هر څه روانه ستا خوشبو

ته یکې چېرته مازیګر وو مېلمستیا لاړې
زمونږ کوڅه کې تاوېدله تر سبا خوشبو

عطر لیلام شول او په مفته هم چا نه اخیستل
چې په راتګ دې ښار کې تیته شوه هر خوا خوشبو

خلکو ګلونه بویول چې را پیدا به یې کړي
راننوتې وه چمن ته د یو چا خوشبو

بختیاره هغې دریڅه باندې ګرد هم راتللو
چې به کوټې ته پرې راتلله د رڼا خوشبو

بې له تا نور او سپدی نه شي ژوندی ځان وژني
ریبـاره ورشـه ورتـه وایـه پـه خدای ځـان وژنـي

په سرو سکروټو یې ګومان د چا د شونډو کړی
کلک یې کړئ خوله پرې لګوي لیونی ځان وژني

زه بـه ضـرور ورنـه لـه ډېـرو چیغـو مخکـې مرمـه
کــه زه ترلــی یمــه پــروت او لالــی ځــان وژنــي

پرې به یې نه ږدمه چې وشي پـه ژونـد دومره کبر
که مې دوښمن هم ځان ته ګوري کوهی ځان وژني

مـا ځـان وژنـې تـه بختیـاره زیـاتي وړي دا سـړی
چـې رابلمـه یـې زه ژونـد تـه او دی ځـان وژنـي

ستا په دیدن وو بیرو بار ورته و نه رسېده
نظر مې تش راغی او وار ورته و نه رسېده

په تا مئین مې زر زر کسه کړل تقسیم مې چې کړې
بیا هم ستا یو د زلفو تار ورته و نه رسېده

اخر مې ولیکلو ستا دي بې حسابه صفات
شمار که مې هر څو کړلو شمار ورته و نه رسېده

نهر نهر شو وږی تږی شو خو مړ تږي نه شو
مړ شو چې ستا د مخ دیدار ورته و نه رسېده

بختیار به خپله در نبږدې شو د بختیار قاتله
چې به د ستا د لاس ګوزار ورته و نه رسېده

ښایست دې راته راکړلو ګوزران د یو بندي
چې و مې لیده ژوند مې شو روان د یو بندي

چې مرو دې موږ په غېږې پسې نه یو لیوني
تلل ښکلې منظرې ته وي ارمان د یو بندي

په دار شم که سنګسار شمه کوڅې ته د یار ځمه
قاضي ته وو همدغه یو بیان د یو بندي

تمامه ورځ یې خپلو زنځیرونو ته کتل
وو خوښ د چا کمڅۍ کمڅۍ زلفان د یو بندي

خپل بند یې تېروه لکه پاچا چې وي د ملک
په جیب کې وو د خپل یار تصویران د یو بندي

موږ ټولو پرې کوشش کوه زندان نه د وتو
سینه باندې خلاص پاتې وو ګرېوان د یو بندي

بختیاره سزاګانې پرې هر ډول تېریدې
خو جرم چا ته هېڅ نه وو روښان د یو بندي

لکه له تن نه مې چې څوک کړي دواړه پړې لاسونه
چې بې بنګړيو وي اختر کې د هغې لاسونه

ته تر هغې پورې اختره اختر نه شې کېدای
څو چې له غاړې نه کړم تاو د معشوقې لاسونه

چې هتکړې به يې ترې تاوې کړلې و به لوېدې
راته پکار شول په زندان کې بې پنجې لاسونه

خدايه قسمت يې د ټوپک په ځای قلم وليکه
نور چې د هر پښتون بچي ته جوړوې لاسونه

که څه هم وخت ترې د سګرټو تقاضا لرله
ما روږدي کړي وو په ګل او ګلدستې لاسونه

بختياره مخ به يې لا څومره سوچه والی لري
د چا چې وکړي لکه لمر غوندې شغلې لاسونه

لکــه چــې تښــتې لــه څپــو انګــار پــه مخــه درشــي
چــې یــار دې مــړ وي بنجــاري د ښــار پــه مخــه درشــي

د خپـل محبـوب دیـدن نـه بیـا هـم سـترګې پټـې نـه کـړې
کـه لـه مـالګینو شـګو جـوړ غبـار پـه مخـه درشـي

سـتا پـه لیـدولو خامخـا یـو څـه ارام محسـوس کـړي
بـس چـې د هـرې نـاروغۍ بیمـار پـه مخـه درشـي

د یــار د خــولې انکارنــه دغــه جګــړه ډېــره ښــه ده
چــې تــه یــوازې یــې او زر کفــار پــه مخــه درشــي

د منــزل تــګ درنــه بــدل پــه راتــګ بیــا هــم نشــي
کـه لیـوان هـم درشـي پـه مـخ ښـامار پـه مخـه درشـي

بختیــاره کېنــې لــه ســحر نــه تــر ماښــام ورســره
چې څوک دې خوښ دی ګوندې ښه اوزګار په مخه درشي

اور مې په ټول وجود وي بل تر څو چې دی ولاړ وي
چې ستا د کور مخکې چتې هم کوم سړی ولاړ وي

ښايي جنت ته به په تلو هم دومره خوښ نه شي څوک
چې ټکيدلی ور کړم خلاص پکې لالی ولاړ وي

د چا غمونه مې له زړه څخه راتاو داسې دي
لکه ګياه په لاس چې مېږو کې شپونکی ولاړ وي

چې ورنه و پوښتم ليدلی يې ستا تور نظر وي
ښار کې رنجو ته د شنو سترګو ليونی ولاړ وي

چې د وصال شمال پرې هر ساعت راځي بختياره
د زړه فضا کې به مې ولې تور لوګی ولاړ وي؟

مــړ کــوي مــې درنــه غــوارې زمــا نشــتون
راشــه مــړ کـړه پــه راتــګ دې خپـل دا نشــتون

کلــه کلــه خــو راتلــل لــه تــا نــه وشــه
پــه زړګــي کــې مــې د غــم شــه پيـدا نشــتون

بيــا مــې اور تــه واچــوه چــې وســوځېږي
لــه کاغــذ نــه مــې جــوړ کــړی و ســتا نشــتون

دوارہ لاســه بــه مــې لمــر تــه رســېدلو
مــا بيــا هــم محسوســوه د رڼــا نشــتون

هــر ســاعت راکــوي تــک راتــه بختيــاره
لکــه مــار رانــه راتــاو دی د چــا نشــتون

درد تـه يـې پـه ټـول وجـود د اور داغلـی غلـی وو
څوک یو چا په تېغ د انکار زړه باندې داغلی وو

مـا يـې محبت ګنـه خـو پـوه کـړم قاتـل غشـې مـې
تن مې یو چا غېږه کې د سپر پـه ځـای نیـولی وو

وايه په لټون پسې دې نور څومره کور پرېږدمه
قلـف خـو مـې د ور راپسـې يـار زنګـو وهلـی وو

ماتـــه يـــې دردونـــه د يـــو کـــال بېلتانـــه راکـــړل
يـار مـې لـه کالـه نـه پـه ماشـوم پسـې وتلـی وو

خوښه مې خندا دومره بې حده وه دیار پـه خولـه
مـا يـو وخـت بختيـاره ورپسـې ان توخنـولی وو

په سرو سکروټو درغلم اوس به ګلان اخلې
جانانه ته زما د مينې امتحان اخلې ؟

ګوره هغې ته او ماشوم د خپلې غېږ ښکلوه
په محبت کې به خوندونه په څه شان اخلې

ددغې لارې اصول دا دي که پل سم پرې غواړې
د تلو په وخت کې به قدم وربانديې وران اخلې

چې څوک وروګوري ورګوري او ورګوري ورته
ته چې په هرې کيمرې ياره تصويران اخلې

د يار په مخ دې تېرې شوې او به ساته کنه
فضول خرچي ده چې ته عطر د دوکان اخلې

محبت سترګې ړندې کړي په تا زلفې نه دي
بختياره پام کوه لاسونو کې ماران اخلې

نمـــو بـــه مـــې وجـــود تـــه ملنګـــي راوړي اخـــر
کچکـــول بـــه مـــې غـــنم ســـتا د پټـــي راوړي اخـــر

یـو ورځ خـو بـه تـا وینـي لـه تبلیـغ نـه بـه لاس اخلـي
ســـتا کلـــي تـــه بـــه دا زاهـــد بنګـــړي راوړي اخـــر

دا اوس چـې یـې د سـترګو پـه اوبـو بانـدې لمـده ده
دا خـــاوره بـــه دې پیغلـــو تـــه منګـــي راوړي اخـــر

چـې څـوک د پیمـانو لپـاره خپـل نوبـت کـړي شـاته
ځـــانونو ســـره تـــش کنـــډولي راوړي اخـــر

په یو ټوپ به بختیاره ځان سپوږمې پورې زوړند کړم
ژونـــدون بـــه راتـــه د غســـې مســـتي راوړي اخـــر

ستا له انکار نه پس مې دوه شپې ایله ژوند تېر کړی
خو خلک وایي راته څو کاله دې بند تېر کړی

په یوه وخت کې اوس هم درد اخلي هم خوند اخلي
یوه مئین یو مات بنګړی ستا د مړوند تېر کړی

زما په خوله کې یې مودې وشوې چې خوند نه بایلي
په هغه ژاوله باندې تا چې د خولې شخوند تېر کړی

چا چې په خپلې ناروغۍ کې ګولۍ نه خوړله
نن یې شرابو سره جام ستا په اړوند تېر کړی

کله ولاړ شم کله کېنم کله وګرځمه
ستا تر راتلو مې هر وخت وخت په ډېر رشخند تېر کړی

زه ورپسې له خولې نه وینې ګرځوم بختیاره
او هغه وایي ده اغزی زما په اند تېر کړی

زمـا یـې خـرپ د خـولې خوښـېږي پـه خرپـا د ښـکل کـړي
مـا ښـکلوي کـه نـه ماشـوم دې واخلـي دا دې ښـکل کـړي

بیـا دې ټـول عمـر پـه خپـل چـای کـې چینـي نـه اچـوي
خـو داسـې چـل دې یـو وار وکـوي چـې تـا دې ښـکل کـړي

بیـا یـې هـم خـاپ د خـولې وي پـاتې اننګیـو کـې سـتا
چـې تـه پـرې هـر ځـو تاکیـد وکـړې پـه حیـا دې ښـکل کـړي

تنـــده ددې ســـړي ده هـــیڅ نـــه ماتیـــدونکې تنـــده
پنځـوس مچکـې یـې اخیسـتې وي او بیـا دې ښـکل کـړي

ســـتا د راوړلـــو پـــه خوښـــۍ کـــې پـــه مننـــې بختیـــار؛
د مور لاسونه خو دې ښکل ښکل کړي د نیا دې ښکل کړي

ما مړ کوي شېبه شېبه اوس مړ ارمان په کبر
چا راته وچ کړل په لاسونو کې ګلان په کبر

ګیلاس را ډک کړي او له ما څخه یې لرې کېږدي
حتا اوبه راکوي و خلکو جانان په کبر

ور به یې خلاص پروت وي خو ته به ورکتی هم نشې
ور په چا بند مه شه د خپل یار د مکان په کبر

په سل کلن مزل هم یار رارسېدلی نه شو
زه دومره لرې تللی وم چې شو پښېمان په کبر

زه ګرځېدم په لوڅو پښو باندې احتیاط مې کاوه
خلکو ویل پرون بختیاره وي روان په کبر

خوند يې ستا له خولې ان د اذان يو وخت اخيستی وو
نوم چې تا زما د جانان وران يو وخت اخيستی وو

اوس به مې ته سر راماتوې او زه به غلی يم
مانه دې د مات ګيلاس تاوان يو وخت اخيستی وو

اوس يې په بدل کې غټې غټې نخرې زغممه
ما د چا کوچنی غوندې احسان يو وخت اخيستی وو

مور چې دواړو يو بل ته کتل ستا به پام وو کنه
زړه مې زلزلې غوندې لړزان يو وخت اخيستی وو

څومره مې بختياره په غرور ناهيلی کړی وې
ناپ دې و خپل قبر ته د ځان يو وخت اخيستی وو

محشر کې که له مورږ وشي پوښتنه د وطن
لاسونو ته به ځای نه وي په زنه د وطن

د چرګ وکه د غوا وکه د میږو او پسونو
هر یو قصاب مو وویسته څرمنه د وطن

ښکاربږي پرتوګاښ ورته له ورایه هر سړي ته
تر دې حده شکېدلې ده لمنه د وطن

هغه به د زلمیو غوڅ سرونه پاګل نه کړي؟
چې څوک غوځه لیدلی نه شي ونه د وطن

که بیا پرې زما زخم هم ګنډي هم پرې خوښ نه یم
چې څوک مې په خیانت غصب کړي ستنه د وطن

بختیاره محبت دې ځار ترې بیا هم بحر نه شوې
که هر څو دې اور واخیسته دننه د وطن

زه ولـــې ږدم لاســـونه پـــه زړګـــي بانـــدې نجـــاره؟
اره چـــې تـــه را کـــش کـــړې پـــه لرګـــي بانـــدې نجـــاره

کـــولی شـــې تـــه هـــم راکـــړې د چـــا د نشـــتون درد
مېخونـــه مـــې راټـــک وهـــه تنـــدي بانـــدې نجـــاره

د ونـــو پـــه تنـــو يـــې ټـــک وهـــي تمامـــه ورځ
مېخونـــه دې خـــرڅ کـــړي ليـــوني بانـــدې نجـــاره

نو ته به خنګه تېر کړې د خټک په شور کې ژوند ؟
چـــې چېرتـــه پابنـــدي وي پـــه ټـــوخي بانـــدې نجـــاره

پـــه لاس کـــې دې نيـــولی دی لـــه زنګـــو نـــه ډک مـــېخ
غرېـــرې د بختيـــار پـــه زنـــدګي بانـــدې نجـــاره

پړانګ او زمري لېوه ګیدړ په بېديا وداړله
زموږ د ژوند هوسۍ بس هرې بلا وداړله

د خپل سفر لوری یې بیا هم را بدل نه کړلو
که ديوالونو ونو هر څو هوا وداړله

د زړګي تنده مې مچکو باندې نه ماتېده
یقین مو وشه چې هغه جنۍ ما وداړله

ستاسو د کلي سپی مې ډېر په کاڼو وویشته خو
د قمیصه لمن یې بیا هم زما وداړله

هغه بختیار چې به یې لمر نه سترګې نه سوزيدې
ستا په لیدو یې خپله ګوته اشنا وداړله

ببرته مې په وینو سور پرهار په اوږو وړی دی
پنډ مې د یو دغسې روزګار په اوږو وړی دی

عرف منم خو دا وزن پرې هم ماته د زغم نه دی
ولې مې ځادر ځان سره پلار په اوږو وړی دی؟

پریږده دا د سرو شونډو د خوند دغه زړه کیسه
لاس دې چېرته لاره کې د یار په اوږو وړی دی؟

ستا د مرګ په وړاندې بې هوشي د حیرانتیا نه ده
چا یو دم یو نیم سل ټنه بار په اوږو وړی دی؟

پلونه یې د پښو په یو پاخه سړک کې وتي دي
بیا خو مره درونډ وزن بختیار په اوږو وړی دی

وو رانغاړلی ځان کې دولس متره ځای قدم
ما تا پسې اخیستی وو یو لیونی قدم

کړي انکار دې وزن دومره راکم کړی زما
پل مې په شګو کې هم نه باسي په خدای قدم

چې په راتلو به یې ما ټوله لار ګلان خورول
زما په ستوني باندې ږدي هغه سړی قدم

دومره درغلی یم چې غیږ کې دې نیولی یمه
په ارمان وایم کاش چې نور مې هم درتلی قدم

لاس به مو یو د بل په لاس کې رانیولو څنګه؟
دې اخیسته نه او ما نه شو اخیستی قدم

بس دې سړي سره بختیاره تګ مزه راکوي
وخت به نه ناوخته دی خو اخلمه کوچنی قدم

پر ببرده کوي دې شکايت رانه ټول ښار د چيغو
په بېلتانه کې څوک ساتلی شي معيار د چيغو

چې ليوه هم په مخه راشي رانه لرې تښتي
دا سې يو شور مې دی جوړ کړی په دې لار د چيغو

تر يو سړي پورې مې بيا هم غږ و نه رسېده
ستوري مې ولو يدل اسمان نه په فشار د چيغو

د کور لګن مې کړ نسکور د بارانه څاڅکو ته
تمامه شپه مې پرې ادا کړلو کردار د چيغو

بختياره شونډې مې په تار د موچي وګنډلې
دې طريقه باندې مې ځواک کړ ګرفتار د چيغو

شــايد لــه مخکــې وو خمــار ســتا پــه نظــر شــرابي
بوتــل د خــولې پــه ځــای راوا ړوه پــه ســر شــرابي

د زنځير شور باندې راويښ کړي په بل کور کې خلک
چــې پــه نشــه کــې رادننــه شــي پــه ور شــرابي

خبــره نــه يــې چــې هــر چــا پــه زړه کــې ځــای در کــړی؟
ســتا لــه واده نــه پــس بــه دا ښــار شــي اکثــر شــرابي

کــه د وطــن دی کــه د خــدای دی کــه د بلــې مينــې
خــدای دې کاميــاب لــري د هــرې مينــې هــر شــرابي

زنـــه زمـــا نيســـي او دم ســـاعت ښنـــه غـــوا ړي
بختيـــاره ونـــې ســـره کـــړی دی ټکـــر شـــرابي

بې وسۍ مړه شې هر سړی مې ګریوان ځان سره وړي
یار مې هم ځان سره راوړي ګلان ځان سره وړي

زه دا باور لرم په دغه بې لاسونو بندي
چې به یو ورځ دی هتکړۍ د زندان ځان سره وړي

د بېلتانه ښامار بیا دلته سړی روغ تېروي
چې ناست دوکان کې یې بنګړي مشتریان ځان سره وړي

د مئینانو له ډېروالي شکایت مه کوه
اورګاډی وګوره چې څومره کسان ځان سره وړي

بختیاره څه ورځه چترۍ اوس ګرځوه ورپسې
دومره نازک دی چې یې غوښې باران ځان سره وړي

پـه غـاړه کـې بـه پـروت وو اوس کفـن د جـدايي
جانانـه کـه انسـان غونـدې وای تـن د جـدايي

ګريوان چې هم د چا په سينه خلاص وينم تړم يې
زه دومره يم دې ښار کې غټ دوښمن د جدايي

چې اور لګيـږي ځرنګـه پـه سر بانـدې د شـمعې
نامـه لګيـږي داسـې پـه مئـين د جـدايي

نـو خـود بـه پـه وصـال پسـې لمنـه درووړم څيـرې
پـه مينـځ کـې مـو تيـر شـوی تـار اغـزن د جدايي

بختيـاره شـايد شـمه لـه ميـږي نـه هـم کـوچنی
کـه عمـر مـې شـو تـن کـې يـو کلـن د جدايي

ستر ګې لیندۍ غشي بانه زړه وړل کمال ته وایي
جنۍ وړه ده خو ځواب مې هر یو سوال ته وایي

ددې جنۍ په مخ او زلفو باندې مه لګېږه
ستا یو مئین دی د سړي زوی شه شمال ته وایي

دیدن یې و نه کړلو ګوره لیوني شو کنه
څادر یې وځنډه راځه چې ځو دیوال ته وایي

په ماتېدو خو به یې هلته لږ خفه شي کنه
زما د زړه نه منګی جوړ کړه دی کلال ته وایي

منګول مې یو سه له څېرې سره یې تن هم راوړه
بختیار تمامه ورځ زاري کوي خپل خیال ته وایي

نـــور دې د بـــل چـــا دروازه هغـــه ســـړی ووهـــي
ما که ترې لاس اخیستی نه وي ما دې خدای ووهي

چې په دې پوه شي چې لمبې یې زما تن سوزوي
زمـــا ملګـــري هـــم هغـــې اور تـــه پـــوکی ووهـــي

پکې راوځي به سرې سرې وینې په ځای د اوبو
څو کاله پس که څوک دې ځمکه کې کوهی ووهي

چې سهار راشي غرمه راشي مازیګر هم راشي
خـدای دې زمـا د زړه پـه رنـځ بانـدې لالـی ووهـي

لـه بـې دیدنـه تـګ دې دغـه بختیـار غـوره ګڼـي
چـې پـه پاخـه سـړک کـې کېنـي او تنـدی ووهـي

ستا د انکار درد مې وجود کې په تکرار کېږدمه
انګـار تـه لاړ شـم قدمونـه پـه انګـار کېږدمـه

بیـا بـه مـې هم لـه خیـال او فکـر څخـه و نـه وځـې
که مې پـه سر باندې یـو نیم سل ټنـه بار کېږدمه

چې ګلاب کېږدم په جارو یې را ګوزار کړي بحر
دا ځل مې زړه دی چې په ور کې یې پرهار کېږدمه

څو چې رپېږي تېرې شوې وې دوه درې میاشتې
ستـا پـه نطـر کـې نطـر دومـره دوامـدار کېږدمـه

هـره شـپه یـې بیـا پـه مینـه کـې سـرتېرى ګـرځم
چـې نخـاګرې بانـدې هـم نامـه د یـار کېږدمـه

زمـا بـاور دی پـرې چـې بیـا بـه هم راځـي دیدن تـه
مـاتې شیشـې کـه هـر قـدم تـه د بختیـار کېږدمـه

زه چې هر څو مره لنډوم ه درپسې فاصلې
ته په هماغه اندازه تر شا پرېږدې فاصلې

لکه یو چا مې چې وجود کې ټک وهل مېخونه
چې زه ولاړ وم ستا په تللو جوړېدې فاصلې

چې سترګې خلاصې کړو بانه مو سره ولګېږي
خدای دې زموږ تر مینځه دومره کړي نږدې فاصلې

چې بیا یې ببرته طی کولو باندې پښې ماتې کړې
پام چې له تا نه کړي غرور دومره اوږدې فاصلې

شاه مو یو بل ته مخامخ کړه حرکت مو وکړ
بختیاره مینځ کې مو پراخې شوې په دې فاصلې

سره هوا کې مې رقیب باندې خولې ماتې کړې
ما چې په کومو قدمونو فاصلې ماتې کړې

چې به یې زه دیدن ته تللم پټېدلو رانه
زما دیدن پسې نن هغه زولنې ماتې کړې

ما درته نه ویل چې دا د خلکو کور ته تللې
په بې منزله لار مو هسې خپلې پښې ماتې کړې

ما د نظر حفاظت ستا د مخ لپاره کوه
تا چې مخ واړولو ما خپلې چشمې ماتې کړې

ستا له تلو پس پکې خپل شکل زورولمه لا
ټولې هنداري مې د کور کور کې په دې ماتې کړې

هغه بختیار به ستا د بل غېږ کې زغم کوم حال ته وړي
چې ستا د نوم په اخیستلو به یې خولې ماتې کړې

ژونـد داسې مـې اسـتاد د ژوندانـه څرګنـدوي
عنـوان نویشــته اور کـړي او اوبـه څرګنـدوي

اړتیـا د تپـوس هـیڅ نشــته لـه مـا د مئینتـوب
بس رنګ مې راز له وړاندې نه د زړه څرګندوي

پـه داسې لار روان یمـه د خپـل ژونـد پـه تکـل
چـې وینـې پـرې د خلکـو مـړه کېـده څرګنـدوي

شي شړپ ورنه چپه شي پرې د چای ډکه پیالـه
چـې مـا کـوم انځـورګـر پـه کاغـذه څرګنـدوي

مــنم بختیــاره ســتا ده د ښــار دنګــه ودانــۍ
خوخـوی دې باشــنده لکــه د غــره څرګنــدوي

پـه دومـره ډېر انتظـار کـانې هـم د غـره بـه راځـي
غـرور خـو حـد لـري زړګيـه بـس دی نـه بـه راځـي

څو چې د دې خونړي رود خوله سیند ته و نه باسو
غـړهـر بـاران کـې د پریـوتې دیوالـه بـه راځـي

بیا یې په موړه پتهوګان پـه لـوړ قیمت خرڅ کړلو
اول یې وېره کړه خوره چې سخت سـاړه بـه راځـي

ولې ته وايې چې له دې غره دې لمبې ښکته شي؟
چې سپینه واوره پرې پرته ده نو اوبه به راځـي

هغـې څلـور جمـع څلـورو لانـدې لـس ولیکـل
مـا دومـره وویـل بختیـاره چـې اتـه بـه راځـي

محسو سو مه لکه زه چې په خپل نس روان یم
بیا بې دیدنه د چا کلي نه واپس روان یم

هر سړی خپل و خپل روزګار ته شو روان سهار شو
زه هم لیدل غواړمه مخ د هغه کس روان یم

اوس نو په ما د خپل ګرانښت اندازه ته وټاکه
د بېلتون میاشت دې پوره نه ده په چکس روان یم

نه مې څه کار شته نه چکر وهم پاګل هم نه یم
له خپل کاله نه راوتلی یمه بس روان یم

چې مې د بره تلو په شوق وریځ جوړوله ځان نه
اوس به بختیاره خود دریاب کې د اطلس روان یم

دردە داسې نـه چې ستا سـر نـه شـم مـاتوی
زړه مـــې زه د زړه د پرهـــر نـــه شـــم مـــاتوی

وخــت وو چــې وتلمــه لــه کلکــو دیوالونــو
اوس د چـا تنـدی پـه ټکـر نـه شـم مـاتوی

دومـره رانــه تـاو دې شـدید اوربې ددې ښـار
دیـګ تـرې د پـوخ شـوي لنګر نـه شـم مـاتوی

دومـره غـورځـولی لـه مسـتۍ یمـه نیسـتۍ
لاس کـې یـو بنګـړی د دلبـر نـه شـم مـاتوی

مـخ دې پټ ساتي بختیـاره حتـا کـور کې هم
نـور یـې پــه لوګیـو نظـر نـه شـم مـاتوی

دښـتې را پـام کـړ چـې ناکامـه یـم لـه ښـاره وتـی
وم پـه لټـون کـور نـه د یـو مسـکا لپـاره وتـی

ستا وصـال دومـره پـه وجـود بانـدې ښـېرازه کړمـه
چې د پښـې پـل مې پـه پاخـه سـړک کې یـاره وتـی

چې به یې پښو نـه تـا بوتـان ویسـتل پـرې نـه خبرېده
هغــه سـړي نــه اوس د ټـول کلـي بیــداره وتــی

اوس بـه میدان پـه وینو ډنډ وو د کامیابـه دوښـمن
کـه یـو یـو غشـی مـو وای جنګ کې لـه غداره وتـی

چې په شمال یې پورته شوي ګرد کې پټ شول خلک
پـه تـګ دې داسـې اسـویلی وو لـه بختیـاره وتـی

چې ستا خوړو سره یې ګوتې د خپل ځان وخوړې
زړه د هغــه ســړي د بیــا راتلــو ارمــان وخــوړې

چې پرې د خپل قمیص لستوني لګېدل ژوبلېدل
هغــه لاســونو هتکــړۍ نــن د زنــدان وخــوړې

ورته د ناستو خلکو خولې په خندا وشکېدلې
داسې تمثیل ته هم زما غوږې خفګان وخوړې

خلکو لـه خولې ځانونه وویسـتل ژوندي د بـلا
او تــه یــې دلتــه د راتــګ خــالي امکــان وخــوړې

د هغې د کور کې د هغې ښایست اوبه اوبه کړې
بختیاره خپل کور کې د رد ګلاب ګلدان وخوړې

خدای پاک خو هسې د ښته د غه ښاریه نه کړله
مړ شوم چا خلاصه راته بنده دروازه نه کړله

اوس که په ټولې دنیا شات و خورې جبران به نه شي
چې یوه خوله دې هم مسکا باندې خوږه نه کړله

سر مې پرې وبایله بیا هم د عاشوقانو لیست کې
زما نامه یې په پنسل هم نویشته نه کړله

چې یې د ښه ژوند په خواهش له ما نه لار جدا کړه
هغه جنۍ مې خدای له ښځې اسوده نه کړله

د نه راتګ ضد کې بختیاره هغې پښې ماتې کړې
او تا یې بیا هم د راتللو هیله مړه نه کړله

دا چې مست بوی د بهار دی د چتېلو اوبو ډنډ کې
د يـو چـا د زلفـو تـار دی د چتېلـو اوبـو ډنـډ کـې

د وطـن اوبـه بـه نـورې د وطـن دښـتې خړوب کـړي
پـروت ددې خبـر اخبـار دی د چتېلو اوبـو ډنـډ کـې

چـــې پـــا کوالی يـــې ده دنـــده د چتېلو هواګـــانو
راغـتې شـوی دا چنـار دی د چتېلـو اوبـو ډنـډ کـې

بيا مې هم کتاب کې کېښود ګنې ډېرو خلکو ووې
عکس د تللي کس پکار دی د چتېلو اوبو ډنډ کې

د رقيـب پـه زړه کـې مينـه د هغـې بختيـار ليکلـې
د رڼـو اوبـو ابشـار دی د چتېلـو اوبـو ډنـډ کـې

رانــه بــه ببــل نــه کــړي يــو تــار ستـا د اوربـل روپــۍ هــم
که راته راکړي څوک منګول منګول منګـول روپـۍ هـم

ســتا د بــا يللو وجــه دا وه چــې خــالي جيــب ومــه
اوس ماتــه هــېڅ دي کــه شــي پــانې د ځنګــل روپــۍ هــم

بــې حــده مينــې هــم مقــام د بــې قــدرۍ راکـړلــو
تاتــه بــې قــدره پــه نشــتوالي کـړمــه بــل روپــۍ هــم

ســتا لــه ديـدن نـه د چـا پـلار راګرځـولی نـه شـوم
زمـا دې جيـب تـه بـه چـې راغلـې يـاره سـل روپــۍ هـم

بختيــاره نــه يــې اخلــې نــه يــې اخلــي نــه يــې اخلــي
کــه پــه لاســونو کــې دې شــي نيــولی ګــل روپــۍ هــم

چې زړه کې قتل د ليوانو د ډار نه شي کوی
ځه دې ځنګل کې ته په هيڅ صورت ښکار نه شي کوی

چې وخت يې نه وو په توپونو دې شپيلۍ ماتې کړې
چې وخت يې راغلو په ليندۍ اوس ګوزار نه شي کوی

هغه پرې هره ورځ اوس ښار ته سفرونه کوي
چا چې ويل راته په دې غره کې لار نه شي کوی

د ناستې ځای چې مې هم داو کې ورته پرې نه ښوده
هغه سړی هم راته وايي قمار نه شي کوی

ته دې د خپل ګرانښت ازمېښت په هجران ولې اخلې؟
بيا به مې فرق ګوره د ملا او د تار نه شي کوی

د جانان نوم يې په لاس وليکه پرې اور به بل شي
که چېرته نور مزاحمت د بختيار نه شي کوی

هلته به خوښ وم چې پېزار هم د دلبر چېرته وو
زما له دومره محبت نه دی خبر چېرته وو

اوس يې مسجد سره شريک شولو ديوال د ساحې
د دښتې کونج و چې د دغه ښار مندر چېرته وو

مور به له واره پوهولو خوش بويي يې د تن
چې دی به ښکته چيرته و او که به بر چيرته وو

اوس يې د خولې له اخيستلو وتی نه يم راشي
ما چې تنها شپې تېرولې نو سحر چېرته وو

دا چې سړک د ښو بدلي غره له کاڼو ډک دی
شايد بختيار پرې روان شوی په سفر چېرته وو

اوس به د پړانګ نس ته ټوټې ټوټې تار تار روان وې
ما ترې راستون کړې ګڼي ته په داسې لار روان وې

بیا به د هم لاس له پرې شوي جیب نه ووت بحر
په دغه ښار کې به چې هر څومره بیدار روان وې

چې مازیګر یې تا کوڅې ته تګ فضول ګڼلو
چې ته یې حسن نه خبر شوې نو سهار روان وې

که دا ممکن نه وو چې ستا ګامونه زه پورته کړم
خو دا مې ډېر ووې چې پښو نه دې شم ځار روان وې

ترې د راتلو د مزل دمه به دې جوړه نه وه
بختیاره بیا به ملاقات ته د خپل یار روان وې

چې وچکالي پکې زایاتي اورلګېدنه کړې
ما داسې ځمکه کې د خپل رزق کرنه کړې

د دروازې قلف چې مې زنګ وکړل خبر شول خلک
چې ددې کور ښځې په کور کې ځان وژنه کړې

راپسې لاره کې قدم په قدم پل پاکوي
راته خیاط په دومره اوږد ناپ لمنه کړې

ما په خپل کور کې د هغه غار په تصویر ویروې؟
چې پکې شپه ما له لیوه سره دننه کړې

بختیاره دلته انتظار زما کباب وویسته
هغه بې غمه ویده شوی چا چې ژمنه کړې

بیـا یـې کـړم ځمکـې تـه ګـوزار اول یـې بـر کړمـه زه
څــه پـــه تضـــادو حـــادثو وخـــت برابـــر کړمـــه زه

اوس پـه خـالي البـوم کـې هـم سـتا تصـویرونه ویـنم
تـــا نـــه د زړه د صـــبرېدو دوا بـــد تر کړمـــه زه

ســتا بېلتانــه دومــره کمــزوری کــړم بــاور وکــوه
وړلـی یـې نـه شـمه کـه خپـل پکـول پـه سـر کړمـه زه

پـــه لاره دیوالونـــو ونـــو خلکـــو ســـره
ســتا بــې دیدنــه راتلـو شـل ځایـه ټکـر کړمـه زه

پکـــې زمـــا د غورځولـــو کوششـــونه کـــوي
بختیــاره څــوک چــې ســمندر نــه رابحــر کړمــه زه

چې ګرد او دوړې یې په سر ټوله فضا اخیستې
ما د یو داسې چاپېریال په غېږ کې سا اخستې

دې سمندر باندې همدغسې ورمنده کړمه؟
ما مې له مور نه چې راتلمه د سر دعا اخیستې

په تریخ نظر هم ورته نه ګورم پښتو پالمه
زما د ورور قاتل زما کور کې پنا اخیستې

چې دې تصویر ته یو ځل و نه ګورم نه تېرېږي
چې مې د ستا د هېرېدو کومه دوا اخیستې

بختیاره اوس مې هم مچۍ راځي په شونډو کېني
کال نه وخت زیات شو چې مچکه ورنه ما اخیستې

ستا په راتګ به یې کوځې ته دی ځان غلی پرېږدي؟
څوک چې په چا باندې نه ګرد پرېږدي نه خلی پرېږدي

ما چې د چا د سر خولۍ ځمکې ته نه پرېښوده
هغه سړی اوس ما په لاره کې لوېدلی پرېږدي

چې په بدن یې د شمال لګېدل هم نه غوښتل
اوس اننګیو باندې خوله مې هغه ښکلی پرېږدي

د دومره لټ دوښمن په برید کې ژوند بایلمه افسوس
چې د خپل لاس چاقو مې زخم کې منډلی پرېږدي

بختیاره چا چې د موټرو اختراع کړې ده
هر موټروان هغه سړی په سړک پلی پرېږدي

چې حافظې ته مې یاد تللیه کسه ستا بوځمه
د خپل سګرټ لوګی دریم کلي ته په ساه بوځمه

له دې نه مخکې مې دې پرېوځي غټ کاڼی په سر
چې د یو بل انسان له خولې نه دې خندا بوځمه

چې په مړی باندې د شخوند تکلیف هم نه وي پکې
وایم چې داسې سهولت ته مې لیلا بوځمه

خاورې د پښو یې د چیني په ځای په چای کې حل کړم
د یوه ښکلي محبت تر انتها بوځمه

پکې بیا هم د جنتي سکون خبره کوي
چې یې بختیار غیږ ته په هر درد مبتلا بوځمه

چې به شرابو هم مزه تړې جدا نه کوله
هغه سړي راسره ناسته د خوا نه کوله
چې دي سپوږمۍ د لمر د وړانګو څخه رنګ اخیسته
مور به پرې ولې د خپل یار اشتباه نه کوله؟
د بل چکچک ته مې خولې ولیده و شرمیده
چې کوم سړي زما سورني ته ګډا نه کوله
له لمدې ځمکې به هم ګرد پورته شو خړ به شو مه
زما جانان چې پروا کله زما نه کوله
زما په ورونو کې هماغه وروړ دارن رالوی شو
چې به مې مور ورته کیسه د بلا نه کوله
ښه ده چې راغلې ګني دومره مې زړه تور وو ژوند نه
چې به ناروغ شومه ما ځانته دوا نه کوله

هغه غمې چې به یې خلک کېناستل ړنا ته
د یار سپین لاس کې یې بختیاره ځلا نه کوله

وګـــوره څـــومره درد دې شـــاته پرېښـــې و چـــې لاړې
خولـه کې مې وچې شولې یو ګیلاس اوبه چې لاړې
دومــره مــې غوښــې د بــدن پــه تــا پســې وخــوړې
خلکــو نامــه رابانــدې کېښــوده ویښــته چــې لاړې
ستا د تـګ درد نـه مـې بـچ حـس د ذایقـې هـم نـه شـو
د شــاتو خونــد پکــې د زهــر خونــد کــوه چــې لاړې
بیــا نــو چــې وشــو پــه کورونــو ســېلابونه راغلــل
پـه دې ښـار ډېـر وخت باران هېڅ نـه ورېـده چـې لاړې
چې به یاران مې کور تـه هم راغلل تـرې پټ به شـومه
ناســـتې ولاړې مـــزه نـــه کولـــه تـــه چـــې لاړې
چې خودکوشی ته یې د ورور قاتل هم نه پرېښـوده
د ژونـــد کولـــو مـــورال و بایلـــه هغـــه چـــې لاړې
د هر طبیب دارو چې خوري لکه دی خاورې چې خوري
دایمـي رنـځ شـو د بختیـار سـر ګرځېـده چـې لاړې

دومره عاجزوم د خپل کړي محبت پر ورانـدې
رد مې وصال د جانان نه کړ د جنت پر ورانـدې

د ستن هر ټک يې لکه ما چې څوک په لښته وهي
په انتظار يو چا ته ناست يم د ساعت پر ورانـدې

چې ستا ماغزه يې تر چترۍ لاندې راوخوټول
نه يم خولې د لمر د غسې شدت پر ورانـدې

وريسې خلکو به په اور ګرځوه و به ګرځېد
دومره مجبور و يو سړی د ضرورت پر ورانـدې

ورلاندې پروت يمه بختياره په سينه مې لګي
زه ودرېدل غواړم د دغسې يو چت پر ورانـدې

ستا واده خو هلته روان ښه په جوش او دم کې دی
غرق درپسې دلته څوک د خپلو اوښکو نم کې دی

خلکو پکې رپ ته پریښي نه دي د ځنګل زمریان
ما چې کوم زنځیر راوړی تا پسې قدم کې دی

تا د هغه کس جیب نه پیسې ویستې اوس خوره لښتې
چا چې اچولی پرتوګ اښ د ستنې سپم کې دی

اوس نو که اختر پکې هم راشي زه خفه یمه
ما یو څوک بایللی د اولې میاشتې دریم کې دی

پریښی هم هغې په نیمه لار یم او خفه هم ده
خدای خبر د کوم یو کافر خوی مې په صنم کې دی

زلفې دې که شوې په بل خورې بختیار به ځان وژني
دومره سرګردان چې ستا د وتې ویښته غم کې دی

چې د لوټ شوي کاله پته څوکیدار ته نشته
د ژوند کولو توقع مې هېڅ دې ښار ته نشته

مازیګري ته لا وخت شته شو درروان دیدن ته
ذره پروا یې په ټوپک د مرګ اخطار ته نشته

خپله لمنه خیروه او تاوه وه یې ورنه
دلته په دې روغتون کې هېڅ پټۍ بیمار ته نشته

چې زما پام دې ورنه واړوي یوه ثانیه هم
داسې خوږوالی مې تر اوسه پورې یار ته نشته

چې مې ملګرو په ورتګ زما خندل بختیاره
میوه د هغه منزل خوري چې لار یې لار ته نشته

يو ازېتـوب تـه يـې پـه چـل پـه مـرۍ لـور ايښـی دی
لـه مـوره يـو سـړي پـه زوی بانـدې نـوم ورور ايښـی دی

راته په تخت کې ناست پاچا تاج لاندې ښکاري ملنګ
په کټ کې ناست يمه او لاس مې په سر مور ايښی دی

مـا بـه د ولـړې پـه ځـای نـن غربـت لـه ولـړې وژنـي
پـه ضـمانت کـې مـې څـادر د وړو د پـور ايښـی دی

پـه ممانيـت کـه مـې ويښـتان هـم دې شـکولي خلکـو
هـم يـم درغلـی چـې قـدم مـې سـتا پـه لـور ايښـی دی

کـه سـپينه شـپه او تـور څـراغ ليـدلی نـه وي کـوم چـا
پـه سـپينه زنـه بانـدې خـال مـې جانـان تـور ايښـی دی

زه مېلمســـتيا راغلـــې وم بختيـــاره دې کلـــي تـــه
تــا ليــوني پکــې بنســـټ وختـــه د کــور ايښـــی دی

لـه دې نـه بـه څـوک زيـات ولـري تـاب د انتظـار
پـه لاس کـې مـې ريښــې وکـړې ګـلاب د انتظـار

راوا ســتوه کښــتۍ دې د واعــدې ګنــي مــړ کېــږم
تــــاو بږم راتــــاو بږم پــــه ګـــرداب د انتظـــار

بيـا هـم مـې پـه زړه خـولې لکـه د سـپي رالګـوي
وخـت لـږ هـم راتـه سـوړ نـه کـړ ربـاب د انتظـار

د اور درد درد و نـه ګنـه پـه وړانـدې يـې اور سـوي
چــې وغږېــدم څــو شــېبې پــه بــاب د انتظــار

د خپلو پښو ځپلی ځان سره وړی نه شمه کور ته
اخــر دومــره تشــويش کړمــه خــراب د انتظــار

سـبا شـنې پـاڼې وچـې د چنـار وې چـې يـې ولـيد
پـه مـا بختيـاره ځـان لانـدې اعـذاب د انتظـار

د دیوالـو پـه ځـای چـې زمـا پـه سـر اوچـت ولاړ دی
ماتــه تــر ټولــو نــږدې کــس پــه هغــه چــت ولاړ دی

لکـه ژونـدی کـب چـې پـوخ شـوی وي پـه اور بېلتونـه
پــه اېینــه کــې راتــه داســې خپــل صــورت ولاړ دی

دا پوري غـر بـه کـانـي کـانـي پـه دریـاب کـې پـروت وي
کــه یــار مــې ووې دا زمــوږ پــه ممانیــت ولاړ دی

چې مې پـه تمـه ناسـت یـاران ځـي بـې دیدنـه پـارک نـه
راتــه د اوســپنې دیــوال مخکــې غربــت ولاو دی

د یـار راوړی ګـل یـې پـټ کـړ بیـا یـار خولـه راکړلـه
اوس مـو پـه وړانـدې رقیـب څـومره خجالـت ولاړ دی

د چـا لــه شــونډو محرومــي یــې راجوتــه شــوله
نـن پـه بـازار کـې بختیـار څنبـاک تـه د شربت ولاړ دی

ټولــه بوختيــا بــه پــه ديــدن د خپــل دلبــر ولــړې
وه زمــا پــوزې کــه تــه هــم چېرتــه نظــر ولــړې

پــه خپــل لــومړي قــدم پــه مــا د زړه حملــه راغللــه
چــې لاريــې بېلــه کــړه او ووې ښــه ســفر ولــړې

چــې د ويســتو پــه ضــرورت ورســره زړه وباســې
ولــې پــه زړه کــې بايــد څــوک دومــره ژور ولــړې

د يار په شتون کې د خېمې ارزښت پرې ډېر اوچت دی
بــې يــاره کــور کــې کــه پــنځلس کــوټې زر ولــړې

ناست يې په کور کې راتــه نېغ بختيــاره هېڅ نــه وځې
کــار کــه هــر څــومره ضــروري کــور نــه بحــر ولــړې

دغــې جنــۍ نــه بــه اخــر خپلــه مېرمنــه باســم
چــې ورپســې پــه ځــان پســې ترلــې ونــه باســم

رانــه يــې ســتا د تلــو د درد تــل انــدازه غوښــتله
اوس رانــه تښــتي چــې پــه لاس ورنــه ځرمنــه باسم

خوا کې روان ځپانده سيند مې پټې تږې پرېږدي
خدايــه اوبــه ورتــه د ځمکــې پــه کېندنــه باســم

دغو حالاتو شريف خلک هم مجبور کړل غلا ته
ځکه مې هره شپه د پلار توپک نه ستنه باسم

زما د ژوند لپاره ايښي د وخت شرط داسې دی
پــه خپــل پــوکي بانــدې اواز بــه لــه لګنــه باســم

چې د هغې په ملکيت کې مندر هم جوړېږي
بختيــاره زه پکــې خــولې لــه خپــل بدنــه باســم